د جهاد هنداره

لومړي کال ، (۷) گنه د۱۳٦۹هـ ش دعقرب (۱۰)

په خوست کې ددښمن پر پوستو د مجاهدینو عملیات جریان لري .

ددښمن یوه باروړونکي الوتکه له منځه ولاړه

دمیرانشاه څخه په رارسیدلو خبرونو کي ویل شوي چي دروان کال دعقرب په دریمه نیټه دالحاج مولانا جلال الدین «حقاني » ترقیادت لاند ي دسلمان فارسي (رض) غونډ مجاهدینو دراکټ انداز پر پوسته بریالي عملیات وکړل چي دهغه په نتیجه کي اوه تنه عسکرله پنځو کلاشنکوفونو،یو میل گرینوف او یو میل وسط راکټ سره دگروپ قوماندان جگړن فهیم ته تسلیم شوي خبر زیاتوي چي دمجاهدینو عملیات په وقفوي توگه جریان لري .

دجهادي مرکزونو څخه په رارسیدلو خبرونو کي ویل شوي چي دالحاج

(۸)مخ

دروس یو جنرال وویل:

روسي قواوونشو کړاي چي په افغانستان کي دمجاهدینو څخه جگړه وگټي

(۷)مخ



الحاج مولوي جلال الدین حقاني له (النصیحه) سره په مرکه کي :

څنگه چي ملگري ملتونه دکفري طاقتونو تر تأثیر لاندي دي څکه خو افغان مجاهد ولس ددغه سازمان په گډون هیڅ بیروني قوت ته دهیواد په داخلي چاروکي دلاسوهنې اجازه نشي ورکولی .

په(۳) مخ

مجاهدین پنج فروند طیاره رژیم کابل را نابود ساختند

مجاهدین سلحشور درعملیات کَبر میدان هوایي شیندند اجرانمودند پنج طیاره رژیم ملحد کابل رانابود وچهل وپنج تن عسکروصاحب منصب راهلاک یا مجروح ساختند .

گذارش هاي رسیده به نقل ازیک منبع جهادي حاکیست که مجاهدین بروز ۳ عقرب با انداخت راکتهاي سکربیست میدان هوایي شیندند

ص(۸)

در روسیه جنایات روز افزون گردیده است

این حقیقت طي کنفرانسي افشا گردیده است که اخیراً به اشتراک مسوولین سازمان جاسوسي روس (کا ،جي ،بي) وزارت داخله وسایر ادارات مربوط تدویر یافته بود. طبق

(۸)مخ

(۷۰) تنه عراقي پوځیان ترکیي ته وتښتیدل

انقره دلرم (۷)

تیره ورځ (۷۰) تنه عراقي پوځیان دسرحد څخه واوښتل او ترکیي ته بي پناه یوړه ویل کیږي هغوي دعراق دسرحد ترڅنگيوه خصوصي کمپ کي داخل کړي شوي .

دترکیي مقاماتوداخبره تصدیق کړي اوویلي چي موږ دي پوځیانوته پناه ورکړي .

دامریکا رسمي منابعو ربوټ ورکړي چي عراق دکویټ دتیلو په ډیپو گانو کي چاودونکي مواد ځاي په ځاي کړیدي ددغوموادود چاودني له امله به داماراتودتیلو ذخیري هم ویجاړي کړي شي .

په کابل کي دیوه بم دچاودني له امله شپږتنه ووژل شول

کابل دلرم (۷)

دکابل په ښار کي ارگ ته نژدي د یوه بم دچاودیدو له امله (٦) تنه ووژل شوي او (۱٦) تنه ټپیان شوي ویل کیږي دابم دارگ په سل متري کي په یوه موټر کي وچاودیدچي ټول ښار بي ولړزاوه

دڅو ورځو راهیسي دکابل پرښار باندي دمجاهدینو عملیات زیات شوي

✿✿✿

په شمال کی دحزب اوجمعیت داختلافاتو دله منځه وړلو لپاره معاهده لاسلیك شوه

پیښوردلرم (٦)

د نظارشورا رئیس نومیالي قوماندان احمد شاه مسعود په پیښور کي دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کي وویل : له حزب اسلامي سره دخبرواترو وروسته پردي فیصله وشوه چي په هغو سیمو کي چي ددوي اختلافات پکي زیات دي انتخابات وشي او هر گوند چي اکثریت ترلاسه کړاختیارات هغه ته وسپارل شي .هغه زیاته کړه : دوه ورځي وړاندي پردي مسئلي معاهده لاسلیک شوه چي وروحکمتیاراواستاد رباني پري امضا کړي .

مسعود دیو ي پوښتني په ځواب کي وویل : پردي معاهدي باندي به دسمت شمال په ۱۳ ولایتونو کي

(۸)مخ

هندي پوځونو په نیول شوي کشمیر کي سل کورونه وسوځول

داکتوبر ۲۳

دسرینگر په شاوخوا سیموکي هندي پوځونود سلو څخه زیات کورونه سوځولي دي دوایس اف امریکا دخبر له مخي دکورونودسوځولو لړي دسهارله (۹) بجو څخه ترشپي پوري روانه وه اونوموړ ي سیموته په هرډول تگ راتگ بند یز لگول شوي ؤ.

همدارنگه په خبر ونوکي ویل شویدي چي دهندي پولیسو او پوځ له خوا دخلکودکورونو او شتو دغلاپه سلسله کي گڼ کورونه لوټ شویدي .

دیو بل خبر له مخي دکورونو دسوځولو په پیښو کي دپوځ له خوایوه حامله تورسري اویو دوولس کلن ځوان په اورکي ژوندي سوځول شویدي .



الحاج مولوي نظام الدین حقاني دپکتیا ولایت دمربوطه جهادي مرکزونو په لیدنه کتنه بوخت دی

دپکتیا ولایت دجهادي سنگرونو څخه دجهاد هنداره خبریال خبر راکوي چي دالحا ج مولانا جلال الدین حقاني مرستیال مولوي نظام الدین حقاني فعلاً دپکتیا ولایت دجهادي مرکزونو ،جبهاتواوسنگرونو په لیدنه کتنه بوخت دي .

خبرزیاتوي چي مولوي نظام الدین حقاني تراوسه پوري دزرمت ، دسراني جبهاتو او دستهي په کندو کي دحضرت عمر (رض) دغنډ مربوط کندك مرکزله مجاهدینو سره کتلي دي .

ص(۸)

سرمقاله: وروستی چانس او فرصت

له څه مودي راپدي خوا چي دجهاد قوماندانانو دخپلو سرتاسري شوراگانوله لاري دمجاهدینو داتحاد په لارکي کوم بنسټیز اواساسي قدمونه پورته کړیدي نوورسره پدي اړه دملت په هغو مړژواندوهیلو اوامیدونو کي هم نوي روح اوقوت غزونی کړی اودي ته سترگي په لاردي چي څومره ژرکیدی شي دغوپریکړواوتصمیمونوته دعمل جامه واغوستل شي .

خودلته بیاهم اساسي مسوولیت دجهادي قیادتونودي چي دخپلو قوماندانانو سره يد ي هکله په خلاص مټ همکاري ورکړي اوپریږدي چي دجهادي تنظیمونواوقیادتونوتر منځ داتحاد اوواحدي ستراتیژي په رامینځ ته کولو کي بي له کوم ځنډ او ستونزوڅخه کارته دوام ورکړي .

(۸)مخ

وروڼو! اختلاف چی په هره سطحه وی له منځه یوسئ یو بل تهدوروولی لاسونه ورکړئ او د اتحاد له لاری د شرق او غرب د توطئو او د سیسو مخه ونیسئ.

« الحاج مولانا جلال الدین حقاني »

بابري جومات افراطي هندوانو ته دوحشتونو پلمه

له تیرو څو کالو راهیسي په هند کي دبابري جومات پر سر دمسلمانانو او افراطي هندوانو تر منځ تود مخالفت روان ؤ چي یوځل تیر کال او بیا نن سبا دیوه تاوده او اوږده جنګ او لاس او ګریوان کیدو تر پولي پوري رسیدلي دي .

بابري جومات دهند دمغلي مسلمان پاچا محمد بابرشاه په وخت کي جوړ شوي ځکه دبابري جومات په نوم یادیږي او افراطي هندوان ادعا کوي چي دغه جومات ددوي دیوه ستر خداي «رام» دزیږیدو ځاي دي او بابرشاه په زوراو جبر دلته دمسلمانانو عبادتځاي «جومات» ورباندي جوړکړي اوپخوا دهمدغه جومات پر ځاي درام درمسال ؤ، دهمدغي ادعا پر بنسټ نن هغوي یو ځل بیا د جومات پر ځاي ددرمسال جوړول غواړي او په ډیرو تودو احساساتو په زرګونو او لکونو هندوان نن سبا د ا ډیودیا ښار ته روان دي تر څو خپل دغه مذموم او ناوړه عمل تر سره کړي .

که څه هم دهند زیات مسلمان او هندو لیکوالان او هم انګریزي مصنفین دهندوانودغه ادعا ردوي چي موږ په دغه لیکنه کي دهغو له ذکراوتفصیل نه ډډه کوو خو بیا هم چي افراطي هندوان پر خپله خبره کلك ولاړ دي تر شایي دهندوئیزم اسلام دښمنه شیطاني څیره له ورایه ښکاري .

که دهند دنیمي وچي دمسلمانانو به ژوند انه له پیله ترننه «محمد بن قاسم له فتوحاتو ترنن ورځي پوري «یو ځغلند نظر وا چوونو دهندوپښو تانو ناوړه نیتونه له انسان او مسلمان سره خیانتونه،وحشتونه او ستمونه به یي په وار وارپه هر عصراو دور کي بر الا وینودهند دنیمي وچي تاریخ شاهد دي چي کله هم هندوانومسلمانان کمزوري لیدلي نو یي دوړولیوانوپه ځیر ور باند ي یرغل راوړي او هیڅکله یي پر مسلمانانودهیڅ رازظلم ، تیري او ناروا صرفه نه ده کړي ، هندوان دهند

بندګان پر خپله خاوره کي پردي ګڼي اوهیڅکله دهغوي وجود نه تسلیموي اونه یي زغملي شي آن تردي چي دپردو یرغلګروملاتړ کړي چي پر هند د انګریزي ښکیلاك یرغل یي ژوند ي مثال دي همدغه هندوان وو چي انګریزانو ته یي دهند دنیولو لاره هواره کړه او بیا دهند دنیمي وچي دمسلمانانو میړني مقاومت ؤچي انګریزان بیرته له هند نه وتلوته اړ شول .

هندوانو دهند او پاکستان دجوړیدو او خپلواکي په وخت کي هم دلکونو مسلمانانو، په وینو ځمکي سري کړي او بیا وروسته په هند کي دپاتي مسلمانانو په وینوهمدغه لوبه تاوده روانه وه او بیا وروسته په هند کي دپاتي مسلمانانو په وخت دخپلو مظالمواو جنایاتودپټولو لپاره یوه نوي حربه ، نوي دسیسه اونوي لوبه په لار اچولي ترڅو له یوي خوا دهند له پراخي خاوري نه خداي (ج) پالونکونکي وباسي اوله بلي خوابي په نړي کي دامن خوښي اوسوله دوست !! لقب ته زیان ونه رسیږي .

دډیموکراسي او جمهوریت ستر داعي دهند خاوره په لکونومسلمانانوسره تنګي وګرځوله چي بالاخره په لکونوتنه تري په ډیر زحمت پاکستان ته په هجرت اړشول اوپه ملیونو تنه همدا اوس هم دهندي پنډ تانودظلم او وحشت په بټي کي شپي سباکوي ،هلته هره ورځ پرمسلمانانو یوازي په همدي ګناه چي ولي دیوخداي (ج) عبادت کوي ولي غوایه اودکاو بحث ته دېنده ګي سرنه ټیټوي اوولي په بي شمیره خیالي خدایانو عقیده نه لري په لسګونوډول سزاګاني ورکول کیږي چي دبابري جومات ربړه د مسلمانانودعامي وژني او سپکاوي لپاره یوه نوي وسیله او پلمه ده .

اوس پوښتنه داده چي دهند له بي وزلواو تش لاسومسلمانانو سره به دخپل عبادتځاي «دخداي (ج)دکور «دساتني لپاره څوك مرسته کوي ؟او افراطي هندوان به څوك له خپل دغه ناوړه عزم نه اړوي ؟

اوایا دنړي مسلمانان دبابري جومات دساتني مسؤلیت نه لري ؟

په داسي حال کي چي کفري ځواکونه پټ او برالادکشمیر او هند دمسلمانانو پر خلاف دهندوانو کلك ملاتړ کوي او دبابر ي جومات په باب هیڅ ویښ ضمیر د هندوئیزم پر بریڅو داعتراض غږ ونه کړ ځکه خو دنړي په مسلمانانو فرض ده چي دهندوافراطیونو دناوړونیتونو دمخنیوي لپاره په پراخ اعتراض او عمل لاس پوري کړي ،که څه هم اسلامي هیوادونه په خپل خپل ځاي دپوره ربړو ، ستونځواو جنجالونو سره مخ دي خودغه ستونځي اومشکلات دهند له مظلومو مسلمانانو سره دنه مرستي او دخداي (ج) دکورنه ددفاع نه کولوبرائت نشي برابرولي ښایي ټول اسلامي هیوادونه په یوه غږ او یوه قومانده دهند پر حکومت زورواچوي تر څو افراطي هندوان دبابري جومات له ړنګولو نه لاس په سر شي په هند کي مسلمانان دخپلو دیني امورودتر سره کولوپوره آزادي تر لاسه کړي که دنړي مسلمانان دهندوانو ددغه ناوړه حرکت پر خلاف کوم قاطع او بریالي عکس العمل ونه ښیي په هند کي به د ټولو جومانونواو (۷۰)ملیونه مسلمانانو سر نوشت دجدي ګواښ او خطرسره مخامخ وي چي دا به بیا خداي (ج)مه کړه داسلامي نړي پر تندي دذلت تور داغ وي

په داسی حال کی چی کفري
ځواکونه پټ او برالادکشمیر او هند
دمسلمانانو پر خلاف دهندوانو کلك
ملاتړ کوي او دبابر ي جومات په باب
هیڅ ویښ ضمیر د هندوئیزم پر بریڅو
داعتراض غږ ونه کړ ځکه خو دنړی په
مسلمانانو فرض ده چي
دهندوافراطیونو دناوړونیتونو
دمخنیوي لپاره په پراخ اعتراض او
عمل لاس پوری کړي.

حضورامریکا درشرقمیانه ومسلهٔ فلسطین

مساله فلسطین از سال ۱۹٤۷بعد از عملي شدن طرح شیطاني با لفور وزیر خارجه وقت انګلیس مبني بر ایجاد یك دولت یهودي در کنار دولت فلسطین بوجود آمد که سازمان بین المللي یهودي ها و انګلیس ها بخاطر ایجاد دولت نامنهاد اسرائیل فلسطیني ها را از خانه و کاشانه شان بزور سلاح بیرون راندند ودر نتیجهٔ مقاومت بر حق فلسطیني ها اسرائیلي ها فاجعه درد آور دیر یا سین وغیره را بوجود اوردند .

به همکاري مستقیم انګلیس ها یهودي ها خود را در فلسطین جایګزین ساختند ودر اندك مدت مهاجرت یهودي ها به دعوت سازمان بین المللي یهودي ها از هر طرف به فلسطین اشغالي اغاز یافت وبزودي این تو مورسرطاني انکشاف نموده قوت بیشترپیدا کرد .نتیجه کسب قدرت بیشتر یهودي ها در فلسطین، اواره ګي بیشتر مردم فلسطین بود، بدین معني به هر تعدادیکه یهودیها به فلسطین اشغالي مهاجر ت مي نمودند به همان اندازه یهودي ها فلسطیني ها را که ساکنین اصلي فلسطین هستند از سر زمین شان به کشور هاي همسایه میراندند .

دولت نامنهاد اسرائیل در اقدامات ضد فلسطین خویش تنها نبود حکومت وقت انګلستان وبعداً امریکا که قدرت عمده درانکشور را همان یهودیها ي سرمایه دار به کف دارند حمایت وپشتیباني مي ګردید واین واقعیت در طول سه جنګ که بین اعراب واسرائیل بر موضوع فلسطین رخ داد به وضاحت دیده شد .

امریکا از یکطرف مدرن ترین وبیشترین سلاح رابدسترس اسرائیل مي ګذاردتایهودیهابرتري نظامي خود را بر کشورهاي عرب منطقه شرقمیانه خفظ نمایند واز طرف دیګر درمجامع بین المللي از محکومیت اسرائیل از طرف ملل جهان به نسبت اعمال ضد بشري اش علیه فلسطیني ها واعراب جلوګیري مي کند .

مساعدت امریکا با دولت نامنهاد اسرائیل با حضور نیرومند نظامي امریکا از شرقمیانه بعد نویني را کسب خواهد کرد. ایالات متحده امریکا اکنون بیش از یکصد هزارعسکرکاملاً مسلح را تحت نام قواي باز دارنده حمله عراق به عربستان در انکشور جابجا نموده است ومهمتراز همه اینکه تمویل این نیروي بزرګ ر ا که در حقیقت بخاطر حفظ منافع استراتیژیك امریکا وجهان غرب وارد منطقه شده است بدوش امیر کویت ودولت عربستان سعودي ګذاشته است .

از این حضور نظامي که تمام کشورهاي صنعتي اروپایي در راس امریکا قراردارددولت نامنهاد اسرائیل سود فراوان مي برد،زیرا امریکا این هم پیمان نظامي وسیاسي اسرائیل دیګر عربستان را نخواهد ګذاشت تا به نهضت مردم فلسطین مساعدت مالي وسیاسي رساند از طرف دیګر با داغ نګهداشتن اشغال کویت از طرف عراق امریکا و اسرائیل تلاش خواهند نمود تا مساله فلسطین را به انجام رسیده وپایان یافته تلقي نمایند .

چناچه حادثه اخیر در بیت المقدس که دران در اثر فیر پولیس اسرائیلي برمسلمانان فلسطین بیش از بیست تن شهید و بیش از هشتصد تن مجروح شدند نمونه از ین نوع جرائت است که اسرائیل در حضور نظامي امریکا در شرقمیانه بخود داده است، اسرائیلي ها اکنون با بر خورداري از حمایت مستقیم امریکا میخواهند مسجد اقصي این نخستین قبله مسلمین را ویران وبه عوض آن نهاد مذهبي خویش را آباد سازند .

علاوتا اسرائیلي ها با استفاده از فضاي دوستانه روس و امریکا سخت تلاش دارند تا تعداد زیاد یهودي هاي روسي را به اسرائیل کوچ دهند تا در کشور اشغالي فلسطین یهودي ها اکثریت قاطع را بد ست اورند .

یکي از محققین امریکا بي ګفته است که اسرائیل بیست وپنج بلیون دالر را فراهم آورده میخواهد پلان خطرناکي رادر جهت تشکیل اسرائیل بزر ګ به اجراګذارد .

یهودي هاي اسرائیل ، حضور امریکا در شرقمیانه را بهترین و مناسبترین موقع بخاطربه اجراګذاشتن پلانهاي شوم وننګین شان میدانند از همین جهت است که چار نعله به پیش مي تازند.در شرایط کنوني که عراق سوریه ومصر که ممالك رقیب نظامي وسیاسي اسرائیل اند سخت مصروف موضوع خلیج بوده قواي نظامي شان نیز در عربستان سعودي مستقر میباشند .از طرف دیګر رهبران کشورهاي عربي نیز به نسبت طرز تلقي هاي ګونا ګون در رابطه به اشغال کویت نمیتوانند موضع ګیري مشترك داشته باشند لذا میدان براي

بقیه درصفحه (۷)

یهودي هاي اسرائیل ، حضور امریکا
در شرقمیانه را بهترین و مناسبترین
موقع بخاطربه اجراګذاشتن پلانهاي
شوم وننګین شان میدانند از همین
جهت است که چار نعله به پیش مي
تازند.

څنګه چې ملګري ملتونه دکفري طاقتونو تر تاثير لاندې دي ځکه خو افغان مجاهد ولس ددغه سازمان په ګډون هيڅ بيروني قوت ته دهيواد په داخلي چاروکي دلاسوهنې اجازه نشي ورکولی

دچارسدي اسلاميه دارالعلوم مياشتني مجلې « النصيحه » له الحاج مولوي جلال الدين حقاني سره دخوست په ګرمو اوويا ړمنو سنګرونو کې مرکه کړې چې د(۱۹۹۰)ميلادي کال داکتوبر په ګڼه کې خپره شويده، دادې مونږ يې دلته پښتو ژباړه درنو لوستونکو ته وړاندې کوو : «اداره»

له پرتم او وقارڅخه ډکه نوراني څيره،غوړيدلې او پراخ وچولي ، توره ،ګڼه ښايسته ږيره،لوړه ښکلې او مناسبه پېپه،پر سر کله هيبتناکه او ړنګه بنګه پګړې او کله ګردې خولې ،له الهي کبريا پرته د نوروټولو دنياوي قوتونو په وړاندې دمقاومت او ټينګار الګو - مجاهد لباس په تن کې،چې خبرې کوي نو له هرې جملې يې د سپيڅلتيا او صدق وړانګې ځليږي،د جهاد جذبه او د مبارزې احساس يې د خبرو له ټکي ټکي څخه ښکاريږي،د رښتني او درونډ شخصيت خاوند د پخې ارادې او پولادي عزم مالک،دا شخصيت او دا اتل مجاهد د افغانستان د مجاهدينو ګران او مدبر لارښود د افغانستان د جهاد روح روان داسلام يو ستر جنرال اوفاتح استاد مولوي جلال الدين حقاني دي چې د (۱۹۸۹)کال دډسمبر په دريمه نيټه ما (غلام محمد صادق)او د چارسدي د اسلاميه دارالعلوم مهتمم اوشيخ الحديث الحاج مولانا ګوهر شاه صاحب د خوست په دنګو او اسمانڅکو غرونو او وياړمنو سنګرونوکې له هغه سره د ليد نې کتنې وياړ تر لاسه کړ او هلته مو له مولانا حقاني سره د النصيحة مجلې له پاره يوه مفصله مرکه ثبت کړ: خوددغو مصروفيتونوله امله دهغه په خپراوي کې ځنډ اغي ترڅنګ چې جناب عمر سعيدي صاحب دغه کارته متي راونغښتي او مرکه يې له کسټ څخه پياده کړه چې دادې النصيحه درنولوستونکو ته يې وړاندې کوو:

پوښتنه :د خپرو شويو خبرونو له مخې ډاکټر نجيب دا پيشنهاد کړي چې د ملګرو ملتو نو ترادارې او څارنې لاندې په افغانستان کې انتخابات تر سره شي خو د مجاهدينو له خوا دا وړانديز ردشوي دي،تاسې پدې رابطه څه نظر لرئ ؟

ځواب : بسم الله الرحمن الرحيم نحمده و نصلي علي رسوله الکريم

د نجيب دا وړانديز چې دملګرو ملتونو تر څارنې لاندې دې په افغانستان کې انتخابات وشي او په هغو کې دې له مجاهدينو سره کمونستان هم برخه واخلي دا جريان د افغانستان د جهاد او اسلامي شريعت مخالف کاردي ځکه خو مجاهدين هيڅکله هم دانشي منلي .

له بلې خوا که د ملګرو ملتونو تر څارنې لاندې انتخابات وشي نودا ډول بهرني لاسوهنه هم ګڼل کيداې شي واقعيت دادې چې دملګرو ملتونو سازمان دکفري طاقتونو تر تأثير لاندې دی او مجاهدين د هر ډول بهرني مداخلت او لاسوهنې مخالف دي .

همدارنګه نجيب څنګه چې پر افغانستان دروسي پر غلګرو پوځونو د تيري په فاجعه کې لوی لاس لري او د افغان ولس پر خلاف دروسانو په ټولوجناياتو کې شريک دي،ځکه خو نجيب او دده ملحد او مزدور ګوند په هيڅ ډول حقوقي او قانوني توګـــــــه د خپلو بې شميره جناياتو له مخې نشي کولی د افغان مجاهد ولس د سر نوشت په رابطه څه ووايي .

له بلې خوا لکه مخکې موچې وويل افغان مجاهد ولس د ملګرو ملتونو په ګډون هيڅ بيروني قوت ته د هيواد په داخلي چارو کې د لاسوهنې اجازه نشي ورکولی .

پوښتنه : په بين المللي سطحه د مجاهدينو عبوري حکومت د څلوڅ اسلامي هيوادونو له خوا په رسميت وپيژندل شو خو نورو اسلامي هيوادونو لا تراوسه پدې رابطه کوم قدم ندي پورته کړی،ستاسې په نظر داکوم خنډ ونه دي چې هغوي د مجاهدينو حکومت لا په رسميت ندی پيژندلی ؟

ځواب : اسلامي هيوادونو له يوه اړخه د مجاهدينو عبوري حکومت په رسميت پيژندلی دی ځکه د زياترو اسلامي هيوادونو له خوا د مجاهدينو د عبوري حکومت د کورنيو چارو له وزير څخه رسمي دعوتونه کړي او له بلې خوا په سعودي عربستان کې د اسلامي خارجه وزيرانو په کنفرانس کې دافغانستان چوکۍ چې دا يوولس کاله دتعليق په حال کې وه،دمجاهدينو عبوري حکومت ته رسماً وسپارل شوه.

پدې رابطه له (٤٥)اسلامي هيوادونو څخه (٤٠) په اتفاق سره مجاهدينو ته ددغه چوکۍ سپارلو په پلوې رايه ورکړه پدې کې ليبيا او عراق په اصطلاح مستنکفه رايه ورکړه – يواځې سوريې ، فلسطين او يمن يې مخالفت وکړ خو په پاي کې په بشپړ اتفاق چوکۍ مجاهدينو ته وسپارل شوه .پدې توګه دا اقدام د مجاهدينو پر حکومت څرګند اعتراف ؤ خو دا هم ښايي ووايو چې د اسلامي حکومتونو له خواد مجاهدينو دحکومت دپه رسميت نه پيژندل له يوې مخې له اسلامي امت او جهاد سره ښکاره زياتي او بې انصافي ده .

د حيرانۍ خبره داده چې دغو هيواد ونو به هميش مجاهدينو ته ويل چې کله روسي پوځونه ماته وخوري او د مجاهدينو فتو حات او پر مختګونه زيات شي نو دا دوخت غوښتنه او ضرورت دي چې مجاهدين يو اسلامي حکومت جوړ کړي او دا بيا د اسلامي هيوادونو مکلفيت دي چې دا حکومت په رسميت وپيژني او هر اړ خيز ه مرسته ورسره وکړي .

خو کله چې مجاهدينو حکومت جوړ کړ او حکومت يې هم ديوې شورا له خوا چې په هغې کې دهيواد دبيلا بيلو طبقو نمايندګان مخوراو قومانداتان شامل ؤجوړ کړ،خو اسلامي هيوادونو خپلې وعدې او مسؤوليتونه هير کړل له غفلت او بې وفايي څخه يې کاراواخيست چې د اسلامي هيوادونوله خوا د افغانستان له جهاد سره يوه ډيره لويه جفااو بې انصافي ګڼلی شي .

پوښتنه :دعبوري حکومت دجوړيدو پر وخت دا فيصله شوې وه چې حکومت به داخل ته انتقاليږي خوتر اوسه حکومت لا داخل ته نه دی ليږدول شوي ددې علت څه دي ؟

ځواب : دا ريښتيا خبره ده چې د حکومت د جوړيد وپر وخت دا پريکړه شوې وه چې حکومت به د هيواد په دننه کې خپل فعاليت ته دوام ورکوي زما په عقيده کله چې حکومت داخل ته انتقال نشو نو همداخبره د حکومت دکمزورتيا سبب وګرځيده او دغو تبليغاتو ته يې لاره اواره کړه چې عبوري حکومت نشي کولی په داخل کې دملت د ټولو طبقو همکاري اوپلو ي راجلب او تا ئيد تر لاسه کړي او له همد ي لارې دمجاهدينو د حکومت پر خلاف پروپاګند پيل شو له همدې ځايه ده چې ديوه سيکولر حکومت په لارکې د کفري طاقتونو له خواهلې ځلې نورې هم پراخه شوې او د مجاهدينو دحکومت له دغه وړ کمزوريو او نيمګړتياو څخه يې پوره استفا ده وکړه .

زمونږ هيله ده چې عبوري حکومت پر خپلو تعهداتو وفا وکړي او خپل فعاليتونه د هيواد په داخل کې تر سره کړي .

پوښتنه : دعبوري حکومت له جوړيدو وروسته ددې پر ځاې چې د مجاهدينو، تر منځ اختلاف پاي ته ورسيږي داسې ښکاري چې دااختلافات نور هم زيات شويدي په تيره دحزب او جمعيت تر منځ خونړي جنګونه رامنځ ته شوي دي پدې رابطه تاسې څه نظر لرئ ؟

ځواب : زما په خيال کله چې په افغانستان کې ددووقبيلويا اړخونو تر منځ په کوم کړکيچ او مخالفت منځ ته راځي جهادي تنظيمونو ته ښايي هغه خپلو ځانونو ته منسوب نه کړي او پدغه اختلاف کې جهادي تنظيمونه ځانونه ککړ نه کړي .ډير ځله داسې پيښه شوي چې ددووقبيلو ترمنځ جګړه پيښه شي يا د کومو اړخونو تر منځ پخوانې دښمني او شخصي مخالفت موجود وي او يو طرف به يوه تنظيم کې وي بل طرف په بل تنظيم کې دلته پکار داده چې تنظيمونه لدغو مخالفتونو څخه ځان وژغوري – کله نا کله په تصادفي او اتفاقي توګه داوړجنجالونه هم را منځ ته کيږي چې دهغې په رابطه بيا خود-غرضه ،او لا ديني قوتونه ناروا تبليغات کوي او د پروپاګند په توګه ترې استفاده کوي .

لکه چې مخکې مو وويل دعبوري حکومت لويه کمزوري داده چې ويې نشواې کولی داخل ته منتقل شي اوديوه حکومت له پاره چې د باور کوم مواصفات ضروري دي هغه ترلاسه کړي که چيرې داسې شوي واي نو ښکاره خبره ده چې د خپل منځي کشمکشونو مخه به هم نيول شوې وه .له بلې خوا به قوماندانانو هم له حکومت څخه پلوي کړې وه او ټول جهادي قوتونه به په يوه مرکزيت او محور راغونډ شوي ؤ. بيانوطبعي خبره ده چې داختلافاتو مخه پخپله نيول کيدله .

پوښتنه :دروسي پوځونو له وتلو وروسته دا تبليغات روان دي چې اوس په افغانستان کې مسلمانان پخپلو منځوکې جنګيږي تاسې ددغو تبليغاتو په ځواب کې څه وايې؟

ځواب : ديو نيم مليون مسلمانانو قاتل کمونستان او داسلام دښمنان چې دوولس کاله يې د مسلمانانووينې توۍ کړې او داسلام په وړاندې يې له دښمنۍ ډک دريځ نيولی دې دغو کسانو ته په هيڅ توګه مسلمان نشي ويل کيدې دا زنديقان دي .

که داسلام تاريخ ته يو نظر واچوونو د حضرت ابوبکرصديق (رض) د خلافت په زمانه کې چې ځينې کسانو يواځې داسلام د يو رکن (زکات)له اداءکولو څخه سر غړونه وکړه نو د اسلام خليفه له هغوي سره داسې جهاد وکړ لکه څنګه چې له يهودو ،نصاراوواو بت پرستو سره يې کاوه،پداسې حال کې چې نجيب او ډلګې يې د اسلام له احکامو څخه په ښکاره سر غړونه کړي،کمونستان دي -د مسلمانانو قاتلان دي دالله تعالي له وجود څخه منکر دي - قرآنکريم او جوماتو نه يې سوځولي نو دې ته څنګه څوک مسلمان ويلی شي ،الله تعالی فرمايي : له ملحد و او کفارو سره تر هغې جهاد کوئ تر څو چې فتنه په بشپړ ه تو ګه له منځه نه وي تللې.

داسلام دښمنان او دغرب د ډله ايز ارتباط وسايل دا تبليغات کوي چې اوس خو روسي پوځونه له افغانستان څخه وتلي اوس هلته په جنګ کې ديو وروله لاسه بل ورور وژل کيږي خو په اسلام کې د ورور تعريف داسې ندی لکه چې غربيان يې کوي.

داسلام پيغمبر (ص) تر ټولودمخه له خپلو خپلوانو او قوم

پاتې په(٦)

جهادي ادب

قدرمنو ليکوالو!

دجهاد هنداري ا اداره په دی خاطرچی توانیدلی وی په ادبی سنگر کی اسلامی انقلاب ته دخدمت مصدر وگرځی په نظر کی لری خپلو لوستو نکوته په هره گڼه کی ود جهادي ادب » تر نامه لاندی لنډی کیسی ، اشعار ، ادبی ټوټی او دولسی ادب په باب مطالب خپاره کړی په دی توگه له تاسو څخه هیله کوو چی په دی بر خه کي زمونږ څخه خپله همکاری ونه سپموی او دخپلو ښکلو اشعارو ، لنډو کیسو او ادبی ټوټو په رالیږلو سره دی صفحی ته لاښایست ورویښی

لنډۍ

شهیده ورورره را دسپین ره
سترګی ستومانه دي مزارته ناسته يمه
دجنتانی ، د تورې شړنگ دی
که خدای دی بخت فتح کوينه ملګي دي مل وی
سري به له تن نه څڅه جلاکړي
که مې په شا باندې ګولۍ خوړلي وينه
ښين منلوبين ابیره ابیره شو
دروس د لاسه بڼي پل دي سره اور نه
افغان دچاغلامي نکړي
ځکه دسرو لمبو ته ګرته وردانګینه

ځلوريزه

سعيدرهبر

هم مجاهدې په لمبوسوزي هم کوکل په لمبوسوزي
چې کشمير په لمبوسوزي چې کابل په لمبوسوزي
دايمان د وطن جسم مې فلسطين چې لمبه کيږي
د پښتون زړګی وطن مې پل په پل په لمبوسوزي

د ولسی ادب په ورانګوکي

مونږ مسلمانان يو په دنيا کې لوړ نشان لرو
د ډېر قوي ايمان لـــرو
ننګ لرو غيرت لرو ، وحدت لرو ايمان لرو
د ډېر قوي ايمان لـــرو

مونږ مسلمانان يو هم اسلام زمونږ شعار دی
داموافتخار دے
تندر په دښمن يو په تاريخ کې شه بيان لرو
د ډېر قوي ايمان لـــرو

* * *

داسې حرکت کړو چې دنيا ورته حيرانه ږي
خاوره مو رڼا نه وي
ټول خلقيان به وه کاکړو په دنيا دغه اعلان لرو
د ډېر قوي ايمان لرو

* * *

د آرمان پوره دی پيل شوی انقلاب دی
جوړ ترېنه دربار دی
اوس به خلقيان وګوري چې څنګه سربازان لرو
د ډېر قوي ايمان لـــرو

* * *

داسې سربازان چې هدايت له مدينې لري
لوړي جذبې لري
سيال مو چېرته نشته په دنيا دغه اعلان لرو
د ډېر قوي ايمان لرو

* * *

سيال مو چېرته نشته په دنيا ازمويل شوی يوو
هرځای جنګيدلی يوو
لوړ د شرافت بيرغ په سربانديږ ريان لرو
د ډېر قوي ايمان لرو

* * *

ن منافقان او مخلصان سره بېل شوي دي
هرچا پېژندلي دے
جنګ ته تل چمتو داسې رښتيني مؤمنان لرو
د ډېر قوي ايمان لرو

* * *

غږ د انقلاب د مؤمنانو په دنيا لګي
په هرځای د دنيا لګي
نه خو په شا نه ځو شهادت ته هم آرمان لرو
د ډېر قوي ايمان لرو

* * *

داسې مؤمنانو ته نظر د مصطفیٰ رالګي
نصر د مولیٰ راځي
فتحه رانږدې ده و رونو مل غني سجان لرو
د ډېر قوي ايمان لرو

* * *

صدق او اخلاص د رب په درګې منظور لري
فتحه کاميابي لري
غږ د قريشي ، دی تر ضربو لاندې خلقيان لرو
د ډېر قوي ايمان لرو

تکل

مروره لار

شفيقي

دادي پوره له يوه کال وروسته يوځل بيا په دي لاره تيريږم ،خوزه نن داسي يکه او تنها يم لکه ټول کاينات چي رانه مرورشوي وي ، ما ته ځان داسي يوازي ښکاري لکه دخداي (ج)په دي ارته دنيا کي چي همدايوزه ژوندي پاتي وم ،په دي لاره زه له کوچنيوالي تلم راتلم ،خوزماد گامونو ترڅنگ به په يوه وخت کي ددي لاري پرسينه ددوونوروپلونوخاپونه اونښي هم شاته پاتي کيدلي دانن چي ماکومه تنهايي څورروي ماپه دي لاره په خوب هم نه ليده ، زه له شاوخواکانواويوتو سره اشنايم ،له هغه شاوخواونواو گټو سره هم ،خوهغه وخت به داټول ماته دژوند له سندرونک ښکاره کيدل داسي لکه مورچي په بي پايه خوښيو او خنداگانويدرگه کوي خونن ټول په داسي درانه سکوت کي پټ دي چي دسږي غوني زيږه شي لکه چي له مانه مرورروي ،يالکه ټول داکبر په خير دمرگ په خوب ويده دي او يوازي زه دهغوي له جنازونه تيريږم ،نن مي گامونه د هغه وړاندي کلا په لوري هم سم نشم اخستلاي لکه چي لاره هم ويده وي او يالکه خفه وي او په خفه سينه بي زما پښي دوړاندي تگ جرئت نه لري .

ماته له دي هري دبري ،بوټي او لوړوژورو سره پخواني يا دونه ټول سترگوته نيغ نيغ ودريږي ، هغه وخت چي زه او اکبر جان به له ښونځي نه په همدغه لاره جوړه راروان وو، دواړه به يو له بل سره

پاتې په(۵)مخ

خولا خاموشه د اغوغانه ده

توريالي حاجي

خوله مې تل ډکه ده، له نهرو داخنده انه ده
بدن مې ټول په وينو سور دی، داقبانه ده
جانانه تاسره چې کړي مې نن دادوه مخي بابان
دبلخبره ده ، زما او يا دستا نه ده
اوس خو رقيب هم دليلا دميني لاپې وهي
ټوله دوکه ده په الله چې دا ان ښتيا نه ده
څو مره بدرنگ وختونه ترشول لابه نوهم راځي
د بدرنګيو زمانه ده ، د ښکلا نه ده
ټول آرمانونه مې ځپل خاوري شوي شهيکه ميلي
ته لا تراوسه په ډېب ښکنځي چې بلا نه ده
دبينا سترګو نظر ته شو لوبه تعه تمه
ددرې ټپه ديوان خواره دي ليا سبانه ده
چې شوه راپورته دافغان له ژوبلي شوي جذبي
اوس هم جاري ده ، لا خاموشه داغوغانه ده
رنا را تلو نکي ته زمونږ ، ساز شونه شول پيل
ټول پيغمبر په مې بي حاجت پاتې دوينانو

سوغات

لنډه کيسه :

عوض الدين « صديقي »

زيړی لمر ورو - ورو خپلی وړانګی خوروليی، - د شپی تپی توری تیاری خپل پالنگ د لمر رڼایی ته خالی کړ، څو شیبی سره غاړه غړی شول خو چی لمر د هسکی څوکی سر را اوچت کړ ځان یی بواځی احساس کړ او د شپی پر تور تم غالب شو، بز گران د خپلو پټیو پر لور رهی شول، «جانك» ځان تگ ته چمتو کړی ؤ، د دروازی په خوله کی یی د مور ورور، میرمنی او د خپل گلالی زوی سره خدای په امانی وکړه، مور یی قرآن کریم راواخیست او په دروازه کی ونیوه، «جانك» د قرآنکریم لاندی تیر شو قرانکریم یی ښکل کړ او سترگو کی اوښکی راروانی شوی. پنډکی یی شانه واچاوه، د کور غږو خواته یی ځیر، ځیروکتل او د «خدای په امان» په ویلو سره رهی شو. مور یی د اوبو ډك جام د شاورپسی وشینده، د خولی یی سوړاسویلی ویوست، سر یی سرتور کړ او لاس په دعا شوه.

خدایه! ته جانك په خیر راولی ... تاته مو سپارلی، ته یی په خپلی پناه کی وساتی ... «جانك» د کلی په منځ کی گړندی، گړندی گامونه واخستل، څوشیبو کی د کلی له مینځ څخه ووت او ځان یی د موټرو عمومی سړك ته ورساوه، د موټر د راتلو په تمه یی د یوی ونی سیوری ته ډډه ووهله، څو شیبی یی دمه وکړه، فکر یی بدل شو، پاځید، پنډکی یی شانه واچاوه او د منزل پر لور رهی شو. د چرتونو سیند د ځان سره لاهو کړ. گلالی بصیر یی سترگو ته ودرید، د هغه د مینی ډکی خبری یی رایادی شوی.

بابا ! ... ... دا وار ماته موټر راوړی ؟! ...

سترگو کی یی اوښکی راځرگندی شوی، پیڅی ئی شاته سم کړ او ورو، ورو یی گامونه واخستل، د ځان سره وبوگنید:

«بصیره ! ... خدای د راته وساته ...

د خولی یی سوړ اسویلی ویوست:

اولاد د پلار دښمن دی ... بصیره! ستا یاد خوبه می سودایی کړی ....

شمیرلی، شمیرلی گامونه یی

پاتې په (۵) مخ

جهادی فولکلور

یوه ورځ دلوگر والی دسیمی سپین گیری راټول کړل او خبری ورته کولی : آیا تاسو اشرار!! پیژنی ؟ سپین گیرو په یوه خوله ځواب ورکړ: والی صیب مونږ خوئی نه پیژنو هغه په تنده لهجه ورته وویل : اشرار ا هغه چی د خلکو کورنه چورکوی ، د خلکو کورونو ته په زور داخلیږی د خلکو ګټی په زور. اخلی او ..... تاسو باید د اشرارو !

سره مبارزه وکړي او ددوی پر ضدوه جنګیږی !!

په دی وخت کی یوه سپین گیری د والی خبری پری کړی : والی صیب ! اوس پوه شوم چی تاسو څوك بنیی !

زه پوهیږم چی ستاسو مقصد روسان دی، دوی د خلکو کورونه ورانوی د خلکو قیمتی شیان پټوی حتی له مونږ څخه چای اوبوره په زور اخلی ، زما د په خدای قسم وی تر څو چی می وینه په تن کی وی ورسره جنګیږو به، تاسو مونږ ته وسله راکړی نور ئی مونږ ته پریږدی،

والی په تیښته بیرته لاړ او غونډه رنګه شوه.

په پاکستان کی پارلماني انتخابات تر سره شول

د پاکستان په پارلماني انتخاباتوکي چي دچهارشنبي په ورځ (داکتوبر ۲٤)ترسره شول اسلامي جمهوري اتحاد د (۱۰۵)چوکیو په ګټلو سره اکثریت تر لاسه کړ.

داانتخابات په صلح امیز د فضاکي سرته ورسیدل ددي انتخاباتو لپاره د پاکستان جمهورریس غلام اسحق خان دبینظیر بوټو د حکومت د منحلولو سره جوخت داکتوبر (۲٤)دراتلونکي ورکولو ورځ ټاکلي ؤه داعلان شو و نتائجو له مخي دپارلمان په انتخاباتو کي اسلامي جمهوري اتحاد چي دنهه ګوندونو له اتحاد څخه تشکیل شوئ (۱۰۵)چوکي ګټلي اودپاکستان دخلکو دیموکراتیک ائتلاف د بینظیر بوټو په مشري چي داسي ښکاریده ښایي اکثریت وګټي ((٤٥) چوکي

په ګټلو سره د سختي ماتي سره مخامخ شوي.

بینظیر بوټو چي دپاکستان دخلکودیموکراتیک ائتلاف مشره ده د انتخاباتو دنتائجو تراعلانیدو وروسته وویل :- چي دپاکستان سرپرست حکومت ددوي په ناکامولو کي له جعلي کاري کار اخیستي،خو دانتخاباتو دجریان بهرنیو او داخلي ناظرینو د بینظیر بوټو دا ادعا رد کړي اوویلي چي په انتخاباتو کي دکومي جعل کاري کارنه دي اخستل شوي او هر چاته په آزادانه فضا کي ددي حق ورکړ شوی ؤ چي خپله رایه ورکړي.

دانتخاباتو دنتائجو داعلانیدو سره جوخت اسلامي جمهوري اتحاد دراتلونکي حکومت دجوړیدو لپاره منډي را منډي پیل کړي اسلامي جمهوري اتحاد د پارلمان (۱۰۵)چوکي ګټلي او دنورو (۳) چوکیوپه ترلاسه کولو سره کولي شي حکومت جوړ کړي ، چي ښایي ددي څخه زیات دپارلمان غړي ترشاودریږي ځکه آزاد امیدواران کوم چي دپارلمان لپاره کامیاب شوي اکثره هغه کسان دي چي پخوایي ددوي سره اړیکي درلودي ویل کیږي دپاکستان مسلم لیک ګوند دحکومت دمشر په توګه «نوازشریف» پیشنهاد کړي . اواوس دوي لګیا دي ددي فیصلي دملاتړ لپاره په اسلامي جمهوري اتحاد کي دنورو (۸) ګوندونو موافقه

لاس ته راوړي ، دانتخاباتو دنتائجو له مخي دپاکستان «جمعیت علماأسلام» (٦) چوکي دنشنل ګوند (٦)چوکي اوحق پرست ګروپ (۱٥)چوکي ګټلي .

همدارنګه دشنبي په ورځ د اکتوبر ۲۷ دپاکستان ایالتي انتخابات هم ترسره شول په دي انتخاباتو کي هم دپاکستان د خلکو دیموکراتیک ائتلاف سخته ماته وخوړه او اسلامي جمهوري اتحاد د پنجاب او صوبه سرحد په ایالتونوکي اکثریت ترلاسه کړ دایالتي انتخاباتو دنتائجو له مخي اسلامي جمهوري اتحاد دپنجاب په ایالت کي (۲۰۸) صوبه سرحد کي

(۳٤) بلوچستان (۷) اوسند کي (٥) چوکي ګټلي او ددوي رقیب دپاکستان دخلکو دیموکراتیک ائتلاف بواځي په سند کي د (٤۷) چوکیو په ګټلو سره اکثریت تر لاسه کړي اونوروایالتونوکي دچوکیو ګراف بیخي ټیټ دي .

دبلوچستان په ایالت کي دپاکستان «جمهوري وطن ګوند » چي مشر یي «بګټي » دي د (۹) چوکیو په ګټلو سره اکثریت تر لاسه کړي .

تراوسه دمرکزي اوایالتي حکومتونو دجوړیدوپه باب چي کله به اعلانیږي څه نه دي ویل شوي.

په پارلمان کی دګوندونوچوکیو شمیر

اسلامي جمهوري اتحاد ـــ (۱۰۵)
دخلکودیموکراتیک ائتلاف ـــ (٤٥)
حق پرست ګروپ ـــ (۱٥)
نشنل ګوند ـــ (٦)
جمیعت علمأ اسلام دفضل الرحمن په مشري ـــ (٦)
جمیعت علمأ پاکستان دنوراني په مشري ـــ (۳)
دوطن دیموکراتیک ګوند ـــ (۲)
دپاکستان نشنل ګوند ـــ (۲)
د پښتنخواه ملي ګوند ـــ (۱)
آزاد امیدوار ـــ (۲۱)
مجموعاً ـــ (۲۰٦)

سوغات ...

واخستل، د ځمکي خواته ټيټ شو، ورکوټی شانی تیزه یی راواخیسته او لری یی وویشته. مسکی موسکی شو او ګامونه یی ګړندی کړل، ناڅاپه یی تیندك وخوړ او پرځمکه ولوید - دښی لاس ارغویی یی لږ شانی وګرید، کالی یی ټکویل- پیټی شاته سم کړ، او بیرته ئي د منزل پر لور تګ ته دوام ورکړ. تیزه یی ببښی باندی لری وویشته او ودرید، شاته یی ولیدل، ګوری چی دلری یو موټر د دوړو په مینځ کی را روان دی، ټنډه یی وغوړیده او د سړك تر څنګ ونی سیوری ته یی ځان ورساوه، پیټی د شا خلاص کړ او د ونی تنی ته یی ډډه ووهله.

موټر په څو شیبو کی راورسید، دی د یا الله په ویلو سره - ورجګ شو او لاس ئي ورکړ، پیټی د موټر باډۍ ته ورواچاوه او دی د شا ورپسی ودرید، په موټر کی د سکوت فضا حاکمه وه، د ویری خپسی پرتولو منګولی لګولی وی، ټول د چرتونو او غمونو په سمندر کی ډوب ښکاریدل، لږه شانی به چی غرها او شرا شوه ټولو به د آسمان پر لور سترګی جګی کړی، دوی په همدی ویری کی د منزل په لور پرمخ روان وو یو سپین ږیری چی د موټر په کونج کی ناست ؤ پر جانك غږ کړ:

ځوانه! ته دی پام ساته ... که چیری الوتکی راڅرکندی شوی چی ځانونه تری سمبال کړو ... ...

جانك ځواب ورکړ:

ماما! خدای به مو ساتی ....

سپین ږیری بیا پری غږ کړ:

ځوانه ! ته خوښه وائی ... رښتیا چی خدای مو ساتی ... خو احتیاط هم ښه دی ....

د سپین ږیری خبرو د سکوت فضا ماته کړه او د خبرو اترو لپاره ئي دروازه پرانستله، د خبروواربی بیا په خپل لاس کی واخیست:

زموږ، تاسو خلك ډیر زړور خلك دی، ډارنه پیژنی او په جنګونو کی پر دښمن داسی وردانګی چی د حیرانتیا وړدی، پرو سږکال چی ځاځیو ته قوا راغله د «خوزخیلو» په سیمه کی مجاهدینو په خالی لاس ورسره ډغری ووهلی، مجاهدین کیسه کوی: موږ تر هغی وروسته چی کالتوس راسره خلاص شول غیږ په غیږ د روسانو سره په نښته بوخت شو، ډیر روسان مو په همدی توګه مردار کړل او قوائي په تیښته د چوڼۍ پر لور بیرته لاړه.

د سپین ږیری ماما خبری لانه وی خلاصی چی موټر دوحشی روسانو تر کمین لاندی راغی او د دریو خواوڅخه ډزی وریاندی پیل شوی. «جانك» تر ټولو د مخه پر سرولګید او د موټر له باډۍ څخه کوز ولوید، موږ ځانونه په موټر کی وغورځول- د ګولیو سخته تر کاوه، په غوږو څه نه اوریدل کیده، څو شیبی پر موټر دږلۍ په شان ګولی واوریدی خو د پنځو، شپږو دقیقو وروسته د سپکو وسلو ډزی کمی او د شاو خوا څخه درندو وسلو د غږ تر څنګ د «الله اکبر»نعری موتر غوږ شوی. فضا ټوله لوګی او دوړو ونیوله، په ډیره لنډه فاصله کی به څه نه ښکاریدل- د درندو وسلو ډزو ځمکه لړزوله، د موټر په باډۍ کی ټول یو په بل پراته وو، ما غلی شانی سر جګ کړ- ومی لیدل چی یو ټانك د دوړو په مینځ کی په تیښته روان دی، ډزی هماغسی جاری وی، د ګولیو باران چاته د دی مجال نه ورکاوه چی د موټر څخه کوز شی، یو، دو تنو ورو، ورو فریاد پیل کړو: وخدایه! ... ؤ خدایه! ... لاس می مات شو ....

ډزی ورو، ورو کراریدی غوښتل مو د باډۍ په مینځ کی ځانونه سر سم کړو چی په همدی وخت کی مو بیا د خبرو ګونګسی تر غوږ شو، ټولو بیرته په باډۍ کی ځانونه - وغورځول، د خبرو غږ ورو، ورو رانږدی کیده، ما ورو - سرجګ کړ، لیدل می چی د دوړو په مینځ کی یو ببرسری ځوان په منډه زموږ خواته راروان دی، د مجاهدینو په رارسیدو سره زموږ په رګوکی وینی وچلیدی، هغوی د روسانو کمین د تیښتی سره مخامخ کړ، ټپیان یی ورسول او بیرته د شهیدانو د سمبالولو لپاره راستانه شول

« جانك» په وینو کي لت پت پروت ؤ،هغه یي دموټو باډي ته واچاوه ،پیټي یي دسر لاندي ورته کیښود ،موټردوړوکورپرلوررهي شو او کورته درسیدو سر. سم یي دګلالي بصیر مخي ته د« موترا! » دسوغات پر ځاي د «جانك»غلبیل غلبیل وجود کیښود .

مروره لار ...

ـــــ غاپه غږکه‌وو

مون به په دغه لاره هر وخت جوړ روان وو ، هغه پسرلی چي دواړوخواووته په سروغاټولو خولي په خنداوخلاصي کړي وي ، هغه دوبي چي دلرتودو وړانګوبه زموږ په زړونو کي د ژوند هیلي او هوسونه ګرمول .

زمونږ په زړونو کي به د خوښي ځپي په غورځنګوي ، دغه ځپي به وخوښیدي او زموږپه خولو به کړس کړس خنداګاني شوي ،هغه وخت به چي زه او اکبر جان په دي لاره باندي روان ووشورماشور به فضا داسي پر سر اخستي وه لکه نن چي سکوت پري خپل وز رونه غوړولي ،زموږ خنداګاني به له هري دبري او ګوټ نه بیرته راغبرګیدلي لکه چي ټول کاینات په خنداسروي او زموږسره دژوند ترانې زمزمه کوي نن زه پدي لاره یوازي روان یم خوزما د پښو غږ هم نه او ریدل کیږي لکه چي زما د پښو آواز هم ځمکه ښکته کشوي او نه غواړي چي زه دژوند احساس وکړم زه دلومړي ځل لپاره داکبرجان دملګري احساس کوم ماته دهغه دجدایي درد اوس ښکاري زه هغه دروند غم په اوږو بار ګورم چي ملا به مي ماتوي ، بیرته تر شا ګورم هغه وړاندي خرخړ غرونه وینم ،زه په هغوکي په یوه ژورناوکي دځوکو ډلوتر څنګ لږ راغوندي خاوري لوټي ګورم چي شناختي وریاندي ولاړي دي او شین بیرغ یي پر سر رپیږي ، بیا یو ځل خاوري لري شي له قبر نه یو ځوان ښکلي زلمي راووزي ماته کټ کټ وخاندي ، راته وایي ورځه ، څه ته معطل یې، ورشه موربه مي انتظار کوي ،مورته مي دشهادت زیري ورکړه ،هغه بیاکټ په خندا شي او په خندا کي ورك شي زه چي ګورم مخامخ هماغه غر دي ، هماغه دنګ له خړوګړنګونواو ګټونوډك لوي غراو زه دلاري پر سر یوازي ولاړیم داکبر جان دخنداګانوغږچوپ دي ،ټوله لاره چوپه ده ،شاوخوا کائنات سکوت په خپله غیږه کي را نغښتي ، هسي سکوت چي له سلو فریادونو په زوره زما پر ضد احتجاج کوي ،شاوخوا چوپه ده خو په چوپه خوله ماته پیغور راکوي ،له مانه ددغي لاري خپل دایمي ملګري غواړي ، له مانه اکبر جان غواړي ،زه نور په دي سکوت کي ویریږم ، زه به نور په دي لاره نه راځم زه بیا په دي لاره نه راځم او که راتلم دوروستي بري شین بیرغ به مي په اوږه وي ، که راتلم بیا به په دي لاره په دي شا وخوا ګټو او بوټو په دي مرورو‌هسکو ټیټو زیري کوم چي اکبر جان دکوم ارمان په لاره کي شهید شوزه دهغي دبري بیرغ په اوږه وړم ، ترهغي بیا په دي لار نه راځم په دي مروره او له سکوته ډکه لار .

ځنگه چي ملگري ملتونه دکفري طاقتونو ...

سره جهاد شروع کړ اوس ځوك دانشي ويلي چي العياذبالله پيغمبر (ص) ورور وژنه کوله،پوره لس کاله دغه ملحدين له روسي يرغلگرو پوځونو سره دافغانانو په قتل عام کي دهغوي د لاس د يـوې آلـي پـه تـوگـه استعماليدل،روسي پوځونه مجبور شول چي له افغانستان ځخه ووځي کـه نـه نـودغـو گـوډاگـيانـو خو نـه غوښتل چي روسان دي له افغانستان ځخه ووځي،کهاوس هم دنجيب مزدور رژيم او کمونستان ددي پر ځاي چي پخپلو تيرو جنايانو تو به وباسي او ځانونه ملت ■ تسليم کړي له لجاجت ځخه کاراخلي او دروسي الوتکو بمونو او وسلـو پـه زور افـغـانـان وژنـي او کورونه يي ورانوي .

پدغه عناصرو کي يوه ډله داسي ده چي هغه کافران دي او ديوي حربي په توگه داپروپاگند کوي بله ډله غربي مشر به خلك دي دهغوي په وړاند ي دکفر او اسلام مسله مطرح نده او ديوه سيکولر حکومت دقيام له پاره دا ډول تبليغات کوي او بله ډله هغه ده چي دموضوع پـه عـمق نـه پوهيږي لـه سادگۍ ځخه دا خبري کوي او دکفري او کمونستي قوتونو له مکارۍ او توطئوځخه بي خبره دي.

نودمجاهدينو دا پوخ عزم دي چي داسلام ددښمنانو، ټولي حربي او مانوري به له خاوروسره خاوري کوي اوپه هيواد کي به داسلامي حکومت تر قيام پوري جهاد جاري ساتي .

پوښتنه : په ايران کي ميشته مهاجرين له عبوري حکومت سره په زياترو مواردوکي اختلاف لري که ددغه اختلافاتو په پس منظر لږه رڼا واچوئ ډيره مهرباني به مووي .

ځواب : په ايران کي ميشته مهاجرين $\frac{۲}{۳}$ برخه سنيان دي چي هغوي په پاکستان کي له جهادي تنظيمونو سره هيڅ اختلاف نلري . ښايي ووايو چي په ايران کي شيعه مذهبي مهاجرين هم شته چي هلته يي ووړې ووړې ډلگۍ جوړې کړي دي.

دايران عراق جگړي له بنديدو وروسته ايراني واکمنو په پراخه پيمانه په ايران کي د مجاهدينو او مهاجرينو په چارو کي لاسوهنه پيل کړه هلته يي د (۸) گوندو نو په نوم ځانگړي تشکيلات را منځ ته کړل او يو ځل خو داسي خبرونه هم خپاره شول چي دايراني حکومت په وساطت د نجيب رژيم غرب پلوعناصرو او په ايران کي دشيعه ډلگيو تر منځ ائتلافي حکومت جوړيدونکي دي ، داسي خبرونه هم خپاره شوي چي ايراني واکمن هلته ميشته افغان مهاجر دي ته مجبوروي چي د عراق خلاف په جنگ کي برخه واخلي له همدي امله يي په زرگونو مهاجرله سرحدځخه پـه زوراړولي او دنجيب رژيم ته يي تسليم کړيدي رښتيا خبره داده چي په مذهبي لحاظ پدي معنا چي شيعه بيل تنظيمونه ولري اوسني بيل دا دافغانستان له جهاد سره ډير ستره جفا ده،اصلاً دافغانستان جهاد په ژبني ،قومي ،مذهبي او سمتني حلقو کي محصورول دجهاد په زيان تماميږي او همدا خبره دهيواد ملي وحدت ټوټې کوي .

پوښتنه : دمرحوم جنرال محمد ضياءالحق دحکومت په وخت کي دمجاهدينو هر اړخيزه مرسته کيده،له هغي وروسته د بي نظير بوټو د حکومت پـه راتلـوسره د مجاهدينو په مرسته او پلوۍ ځه بدلون راغلي که ځنگه ؟

ځواب :ځنگه چي زه پـه پاکستان کي ډير نه اوسيږم ځکه خوله حکومتو نوسره نه مخکي زما اړيکي وې او نه اوس شته ځکه خو پدي اړه ځه نشم ويلي خو د نښو نښانو له مخي داسي ښکاري چي دمرحوم ضياالحق شهادت وروسته دمجاهدينو په رابطه ځه نا ځه مشکلات راپيدا شويدي .

پوښتنه :ځيني حلقي وايي چي کله مجاهدين پـه جنگ کي پوځيان او نور حکومتي افسران ونيسي نوهغه بيا وژني پداسي حال کي چي کـه کافر هم توبـه وباسي نومرگ يي رواندي،پدي رابطه تاسي ځه وايئ؟

ځواب : مجاهدين چي کوم حکومتي افراد ونيسي دا په دريو ډلو کي ويشلي شي:يوه هغه ډله چي په زوورسره له کمونست حکومت سره يو ځاي شويدي او جبري عسکري ته نيول شوي دا ډله چي کله هم ونيول شي نو هغوي سرېيره پردي چي په عزت سره خوشي کيږي بلکي ،دلاري کرايه ،خرځ او لباس هم ورکول کيږي.

دوهمه ډلـه هغـه دي چي عقيدتاً کمونست ندي خو د معاش اوپيسو په مقابل کي دکمونستانو په پوځ يا مليشا کي شامل شويدي او له مجاهدينو سره جنگيږي داډله چي کله ونيول شي نو تريوه وخت يي مجاهدين پخپلو مرکزونو کي ساتي او ځارنه يي کوي ،اسلامي احکام او ارشادات ورتـه بـيانـوي او دا درس ورکوي چي ددنيـوي گټي له پاره له کفاراو ملحدينو سره مله نشي او دپيسو په مقابل کي ددين او وطن ددښمنانو په صف کي ونه دريږي کله چي دوي دا تعهد وکړي چي نور به دکمونستانو خدمت نه کوي نو بياخوشي کيږي،البته که داداوړه ډلي له مجاهدينو سره کارکول وغواړي هغوي تـه کـاراو وظيفـه هم ورکـول کيږي او لازمه مرستـه هم ورسره کيږي.

دريمه ډلـه هـغـه دي چـي عقيدتاً ملحد او کمونست دي له اسلام او خداي(ج) ځخه منکردي داډله کسانو ته په اسلامي شريعت کي زنديق ويل کيږي دشريعت له مخي ددغه ډلي په رابطه داحکم دي چي که يي له جگړي مخکي توبه ويستله او مسلمانانو ته تسليم شول نو ددوي هر ځه په امن دي خو ددغه خبري تحقيق به ضرورکيږي چي ددوي توبه او تسليمدل خو به کومه تو طئه نه وي تر ځو دهغوي دتخريبکارۍ او جاسوسۍ مخه ونيول شي .

هغه ځوك چي مجاهدينو ته تسليم شي او توبه وباسي هيځکله هم هغه ندي وژل شوي دا هم دجهاد او مجاهدينوپرضد د روانو تبليغاتو د سلسلي يوه کړۍده .

پوښتنه : که دخپل ژوند او مبارزې په اړه ځه رڼا واچوئ ډيره مهرباني به مووي ؟

ځواب : ما په ډير وړکو الي کـي قـرآنـکـريم زده کـړ ، د (١٦)کلونو به وم چي زموږ کورنۍ له خپلي علاقي ځخه وليږديدله او ديوه ديني عالـم پـه ځنـگ کي مواړول او هلته مي ددينې علومو په زده کړه پيل وکړ. وروسته مي له نوروديني طالبانو سره يو ځاي دعلم په تحصيل پسي دسفر لاره ونيوله ـ لس کاله مو دافغانستان په بيلا بيلو سيمو کي په مختلفو مدرسو کي تحصيل وکړ،بيا پاکستان ته راغلم يو کال مي دکوهاټ ضلعي دټل په جرسه مدرسه کي تير کړ ، بيا داکوړه ختك په حقانيه مدرسه کي شامل شوم پنځه کاله مي هلته تحصيل وکړ له فراغت وروسته مي د يوکال لپاره هلته د تدريس چاري سرته ورسولې .په حقانيه مدرسه کي لـه يـوکـلـن تدريس وروسته مي دحج دفريضي داداکولوقصد وکړ دغه وخت پـه هيواد کي دظاهرشاه واکمني وه دکمونستانو فعاليتونه خورا زورکي روان وو ـ له خلکو سره دا انديښنه موجوده وه چي افغانستان دکمونيزم دښامار کومي ته نژدي کيدونکي او دبخاراڧاجعه بيا تکراريدونکي ده زما هم دحج له سفر ځخه يو هدف داوچي پدي دوران کي دکمونستانو دناولوعزايمواو فعاليتونو په رابطه دتبليغ اوپـولږتماسونـولـه لاري دخلکواذهان تـنويـر او پـدي اړه دخلکوتوجه راوگرځوم.دحج له اداکولو وروسته زمونږدهيواد علماوولـه ما ځخه غوښتنه وکړه چي داسلامي دعوت او تبليغ لـه پاره دهيواد په داخل کي په مبارزه او فعاليت پيل وکړم . داوخت کمونستانو په ډيره بي شرمۍ دوخت دحکومت دمـلاتـړلـه اړخه دمظاهرو،ميټنگونو،مارشونو او نشراتو لـه لارې دکمونيزم دترويج له پاره دجذب او جلب پـه لارکي گرندي فعاليتونه کول .

دظاهرشاه حکومت کمونستانو ته پوره آزادي ورکړي وه،هر چا به چي دکمونستانو مخالفت کاوه هغه يي تـهديدول او زندانونوتـه يي اچـول ځرنگه چي دحقانيه دارالعلوم له طالبانو ځخه چي شمير يي (۸۰۰) تنو ته رسيده نيمايي د افغانستان اوسيدونکي وونو ما غوښتل چي دحج له اداءکولو وروسته بيرته په حقانيه مدرسي کي تدريس ته دوام ورکړم ځو له دغوافغاني طالبانو ځخه ددعوت او مبارزې په لار کي يو منظم قوت جوړ کړاي شم او دا به بيا پـه هيواد کي داسلامي انقلاب له پاره بنيادي نقش تر سره کړي او لـه همدغي لاري بـه دټول افغانستان د علماووتر مينځ دارتباط کړۍ ټينگه شي،ځکه خو ما غوښتل چي لږ تر لږه ځلور پنځه کاله په حقانيه مدرسه کي تدريس جاري وساتم او له هغي وروسته کله چي له دغو طالبانو او علماووځخه يو منظم تشکل او قوت جوړ شي نو په هيواد کـي بـه دمـبـارزي حـرکـت پـه لار واچووخو دځينو دوستانو دډيراصرارله مخـي زه افـغـانـسـتـان تـه ولاړم اودتدريس سلسله مو شروع کړه،هلته مو ديو لوي جومات او مدرسي بنسټ کيښود او دعلماووسره مو د ارتباط سلسله ټينگه کړه او داسلامي دعوت خپراوي تـه مو متمي راونغښتي دکمونستانو په خلاف مو حرکت او مبارزه پيل کړه دسيمي علماء موپه يومبارزاتي محور راغونډ کړل،نژدي دوه کاله مو ددعوت کار پر مخ بوت پدي وخت کي داؤد خان کودتاوکړه او دحکومت واگي دکمونستانو لاسونو ته ولويدي،دداؤد خان په کابينه کي کـمـونـسـتـووزيـرانوگـډون درلـود دحکومت نوري چاري هم دکمونستانو لاسونـو ته ولـويدي ځکه خو مونږ دداؤد دحکومت خلاف خپل تبليغي فعاليتونه نور هم گړندي کړه.حکومت هم زمونږ پر خلاف ډيرسخت اقدامات وکړل،ځو ځله يي زندان ته واچولم خو د ولس د فشار او مخالفت له مخي به يي بيرته پريښودم تر ځو چه مونږ د گرديـز ، خوسـت ،کـابـل ، غـزنـي ،کندهار او جلال آباد لـه علماوواو خلکو سره رابطه ټينگه کړه دقبايلو له لاري مو ځه نا ځه اسلحه تر لاسه کړه او دداؤد خان دحکومت پر خلاف مو وسلـه وال جـهـادشـروع کـړ داوخت حکومت زمونږ کور محاصره کړ زه پدې وخت کي په کور کي وم نژدي دري ساعتـه زمونږکور محاصره ؤ پدغه وخت کي زه پدي وتوانيدم چي له کور ځخه ووځم وروستـه مي کورنۍ هم غـرونـو تـه راوستـلـه اونـژدي دري مياشتي مو په غرونو کي تيري کړي.

يو ځل حکومت پر مونږ حمله وکړه ځلور ورځي زمونږاو د حکومت تر منځ جنگ روان ؤ ځو حکومت په شا تگ ته مجبور شو خو زمونږ محاصره يي جاري وساتله په مونږ د خوراك ټولي لاري وتړلي شوي ترځو چي مونږ دغرونو له لاري دپاکستان قبايلي سيمو تـه هجرت وکړه پدي وخت کي دهيواد دځينو نورو برخو ځخه هم مسلمانانو او علماووهجرت کړي و چي پدي کي مولوي محمد يونس (خالص) انجنير گلبدين (حکمتيار)استاد برهان الدين (رباني) قاضي محمدامين (وقاد)مولوي نصرالله (منصور)او نور علماء اومشران شاملوومونږ دلته دجهاد دتنظيم له پاره يو قوټجوړ کړ او ديو تنظيم په چوکاټ کي را غونډ

پاتې په (۷) مخ

داسلام لومړني خليفه حضرت ابوبکر صديق (رض) دخلافت په زمانه کي ځيني کسانو يواځي داسلام د يوه رکن (زکات) له اداءکولو ځخه سر غړونه وکړه ځو داسلام خليفه له هغوي سره داسي جهاد وکړ لکه ځنگه چي له کفاراو مشرکينو سره يي جهاد کاوه پداسي حال کي چي نجيب اوډلگي يي له اسلام ځخه منکر ، ملحد ، کمونستان او دمسلمانانو قاتلان دي او الله تعالي (ج) فرمايي : له ملحدو او کفاروسره ترهغي جهاد وکړئ تر ځو فتنه په بشپړه توگه له منځه نه وي تللي .

جنگ او سیاست

شاده

جنگ له ډیرو پخوا زمانو څخه دانسانانو تر منځ شته خو ددغو جنگونو ریشه اومرامونه سره توپیر لري .ځني جنگونه د ظالمانو له خوا پرمظلومو او محکومو خلکوتپل کیږي او هغوي بر سیره پر محکومیت او مظلومیت له خپل ځان څخه د دفاع ته مجبوریږي اوځني بیا داسي جنگونه دي چي مظلومان یي دظالمانو پر ضد د خپلو روا حقوقو داخستو له پاره په لار اچوي .

که چیري دغه ټول جنگونه وڅیړل شي دجنگ سره څنګ به څنګ اویا دجنگ تر شا ځني اعمال او حرکات هم عملي کیږي چي هغه دجنګ په بري او ددښمن په ماته کي اهم رول ادا کوي چي نن ورځ دغه ډول عمل او کردار ته سیاست ویلي شي .

دا اعمال او کردار هم له جنگونو سره یو ځاي راغلي خو په نږدي پیړیو کي دجنگ دغي برخي وده کړي او په جنگ کي دښکیلو ډلو مشرانو پام بي زیات ځانته را اړولي دی . اما زموږ په پیړي کي دي برخي زیاته وده موندلي او آن له توري څخه زیات غوڅونکي او بري بخښونکي دي .

په افغانستان کي اوسنی روانه جګړه هغه جګړه ده چي غاصب او ظالم پر مظلومو او مسلمان ملت باندي په زور تپلي او افغان ولس بي دي ته مجبور کړ چي ددغو ظالمانواو ملحدانو پر ضد وسله راواخلي نن چي د افغانستان قهرمان راپاڅیدلي ملت لوي اوغاصب دښمن ته دماتي په ورکولو دوروستي بریالیتوب په درشل کي دي دجنګ اوتوري ترڅنګ سیاست ته په زیاته پیمانه ضرورت شته .

دنړۍ خلکو ولیدل چي افغانانو دتوري په میدان کي بري وګاټه خو لازمه ده چي دي بري ته دسیاست په ډګر کي چي دننني نړي دژوند مهمه او ستره او باارزښته برخه تشکیلوي په هر اړخیزه او ځرګنده توګه ددښمن پر ضد او دد ښمن ګوښه کولو لپاره په منطقي او تینګواساساتو ولاړسیاسي شرایط رامنځ ته شي . دا ځکه چي په جنګ کي ماتی خوړلی دښمن ته ددي وخت ورنکړوچي په ارامه سا وباسي او هغه ماته چي په نظامي میدان کي یي خوړلي دسیاست په ډګر کي هغه وګټي . اوهمدا دلیل دي چي وایي سیاست دجنگ ادامه دي .

دافغانستان په روانو شرایطو کي موږ په داګه ولیدل چي دکابل ګوډاګي حکومت دروس په ملګرتیا سره په سیاسي مانورو او په بیځایه ته واضحه وه چي دجنگ میدان یي بایللي خو ډیر کوشش یي وکړ چي په سیاسي او تبلیغاتي تودوتاوندو تړوسره دغه ماته جبیره کړي .

په مقابل کي دیخوا یعني جهادي قوتونو په هماغه شان چي دجهاد ضرورت موجود وو وسله وال جهاد ته ادامه ورکړ خو دسیاست ډګر ته یي ځکه چي لازم ژبام ونه ساته او دوی

دافغانستان دمسلمانو خلکو دجهاد په ګټه نوي او ډیر مهم حرکتونه خپله له جهادي سنګرونو څخه پیل شوي نو ډیره ضروري ده چي دتوري او توپک ترڅنګ دجهاد دسنګرونو هر نظامي او پوځي بري له سیاسي غږ سره یو ځاي او چټ اونړیوالو غوږونو ته ورسول شي تر څوزموږ دتوریالیو مجاهدینو سر ښندنه او مجاهدت له سیاسي خوځښتونو سره یو ځاي شي او هر بري په اطمیناني او ښه توګه عیني او عملي شي نولازمه ده چي ددښمن پر ضد جنګ اوسیاست څنګ په څنګ داسي سره عیار اوسمبال شي چي یوبل دجنګ اوسیاست په ډګر کي بیاوړي او قوي کړي او که چیري له دغودووڅخه یوکمزوري شي دښمن له هغه نه په ګټي اخستني سره کولي شي زموږدمجاهد ولس جهاداو روامبارزي ته ګوزارورکړي .

لنډه داچي دافغانستان جهادي مشران په رښتیني یووالي سره باید د جهاد دسنګرونو دقومندانانو او مجاهدینو هر بري دسیاست په ډګر کي په متحد ګام سره هغه دخپلو خلکودوروستي بري په لور لاپیاوړي کړي .

> **دافغانستان جهادي مشران**
>
> **په رستیني یووالي سره باید د جهاد دسنګرونو دقومندانانو او مجاهدینو هره بري دسیاست په ډګر کي په متحد ګام سره دخپلو خلکودوروستي بري په لور لاپیاوړي کړي .**

په اصطلاح دسولي په ناروسورو او دهغه په اړوند بي سروپایه پروپاګندونو سره وکولي شول چي دنړیوالو اذهان دافغانستان دجهاد په مقابل کي مغشوش کړي ځکه چي دوي دا فکر وکړ چي دنظامي قطعي بري په آخر کي به دسیاست ډګرته ورګډشي نو هماغه وو چي دښمن ته دتبلیغ میدان خالي پاتي شو.

نن چي دخداي په فضل

داد افغانستان دمسلمانو خلکو

تقاضا اودا اسلام او هیواد په لارکي دیو نیم ملیونو شهیدانو غوږدي چي دهیواد دتاریخ په دغوحساسو شیبو کي دجهاد دسنګرونو مشران او جهادي قیادت سره یو موټي او یو لاس شي ترڅو دافغانستان دمسلمان ملت دالویه تاریخي فداکاري اوجهادچي دنړۍ په تاریخ کي ساري نلري په هیواد کي دیواسلامي منلي نظام دجوړولو په لور وروستي بریالیتوب ته ورسیږي چي هلته دهیواد ټول خلك دیو سالم اسلامي نظام تر بیرغ لاندي خپل ژوندبیا سمبال کړي .

***********.

دروس یو جنرال:

روسي قواوونشو کړاي چي په افغانستان کي د مجاهدینو څخه جګړه وګټي

دروس دکمونست ګوند دمرکزي کمیټي دنړیوالو چارو ددفتر غړي جنرال ویکتور ستر دوبوف په واشنګټن کي دفارس د خلیج داوضاعو په اړوند په یوه جرګه کي وویل : شوروي نه غواړي دفارس خلیج ته پوځونه واستوي دا ځکه چي شوروي قواوونشو کړاي چي په افغانستان کي مجاهدینو څخه جګړه وګټي .

نوموړي زیاته کړه : داچي موږ نه غواړو ځان په پوځي لحاظ دفارس دخلیج په موضوع کي ور ګډ کړو سبب یي دادي چي موږ تراوسه هم دافغانستان دجنګ په ذهني اوروحي تشویش اخته یو نو په دغه وجه زموږ دباره سخته ده چي دفارس دخلیج په بحران کي کوم پوځي اقدام وکړو .

دغه جنرال وویل چي دده هیواد به دفارس خلیج د بحران په حل کي دملګرو ملتو نورو غړوهیوادوپه څنګ کړو دریږي خو دفارس په خلیج کي دهر ډول پوځي مداخلي مخالف دي .

دپروسترېکا عملیه له خرس نه کوتره جوړ وی !!!

حضور امریکا...

اجراي پلانهاي اسرائیل خالي ګذاشته شده است .

امریکا صرف به ظاهر براي رفع شکایت کشور هاي عربي به محکوم نمودن اعمال اسرائیل اکتفا خواهد کرد ومانند ګذشته باز هم نخواهد ګذاشت تا از مجامع بین المللي علیه اسر ائیل اقدامات تا دیبي وضع ګردد چنانچه بد نبال قتل عام اسرائیلي ها درحادثه اخیر بیت المقدس این وضع بخوبي دیده شد .در ین جاهیچ شک باقي نمي ماند که هدف امریکا از حضور نظامي اش بر علاوه غصب منابع نفتي خلیج وشرقمیانه همکاري در تحقق پلانهاي شوم ودور رس اسرائیل نیز بوده است .فلسطیني ها که طي مبارزات خویش با دسایس مختلف امپریالیزم وصهیو نیزم اشنایي حاصل نموده وبان به طرز شایسته تا اکنون مبارزه ومقاومت نموده اند ودر خنثي نمودن هر کدام انها از ایثار وقرباني دریغ ننموده اند اینبار نیز با فداکاري وشجاعت اسلامي وهوشیاري سیاسي پلان مشترك امپریالیزم و صهیونیزم را خنثي خواهند کرد ونخواهند ګذاشت نام فلسطین در اذ هان جهانیان فراموش و شمع شجاعت وقهرماني شان از پر تو افګني باز ماند ودیار فلسطین که در آن اماکن مقدس مسلمین قرار دارد بدست یهودي ها نابود ګردد.

څنګه چي ملګري ملتونه ...

شو. په لومړي سر کي مو دکتابونو او رسالو توزیع پیل کړه پدغو خپرونو کي دکمونیزم د استعماري ایدیالوژۍ په رابطه مستند مطالب خپریدل او خلکو ته مودکمونستي استعمار په انساني ضد ناولو اهدافو په رابطه نشراتي مواد برابرول.ددي په څنګ کي مو دوسلي تقسیم ته هم پاملرنه وکړه.نږدي څلور کاله فعالیت روان ؤ په دي دوران کي په ځینو برخو کي مسلحانه مبارزه هم وشوځو کله چي کمونستانو د داؤدحکومت نسکور کړ زه له خپلو ملګرو سره بیرته افغانستان ته ولاړم او په پکتیا کي مو جهاد پیل کړ.(۱۵)ورځي مو سخت جنګ وکړ،خلکو هم زمونږ مرسته وکړه دحکومت ډیري څوکۍ او تانې مو فتحه کړي خو څنګه چي دهیواد په نورو برخو کي لا جنګ نه وپیل شوي،ځکه خو مونږ په جنګي فعالیتو نو کي ډیر پرمختګ و نشواي کولاي،مونږ یو ځل بیا مجبور شو چي په غرونو کي خپلي مورچي ټینګي کړو.دلته له مونږ سره (۱۷)تنه ملګري ووپه غرونو کي مو شپږ اوو میاشتي په لوږه او سختو مشکلاتو کي تیري کړي،زیاتره وخت به مو ګیاوي خوړلي.نه لباس ونه درمل اونه هم خواړه،مونږ له دغه ځایه په نوروسیمو کي په پوځي تأسیساتو پټي او چریکي حملي کولي په نږدي سیمه کي مو ځکه برید نشواي کولاي چي خلك له مونږ سره پدي هکله مخالف وو ځکه خو مونږ مجبور ووچي په نسبتاً لیري واټن کي په دښمن برید وکړو.ورو وروزمونږ دفعالیت ساحه پراخیدله او قوت مو زیاتیده دخلکو همکاري هم ورځ تر ورځي زیاتیدله ترڅو چي منظم جهادي قوتونه مو جوړکړل او دښمن مو په هر محاذ کي له شرمیدلي ماتي سره مخامخ کړ .

دعراق دسفارتونو کارکوونکو په بېلا بېلو هیوادونو کي دسیاسي پناه غوښتنه کړي

ابوظبي دلړم (۸)
په عربي اوځني نوروهیوادونو کي دعراق دسفارتونوکارکونکو د سیاسي پناه غوښتنه کړي ځکه چي هغوي پر کویټ باندي دعراق دحملي مخالف دي .
د «الاتحاد » ورځپاڼي لیکلي : چي په ځینو اروپایي هیوادونوکي دعراقي سفارتونوکارکونکوته پناه ورکړ شوي ده
دغه هیوادونوویلي دي مور فیصله کړي به دي خاطرچي دوي دعراق له انتقامي حملي وساتل شي اوس به دهغوي نومونه افشآ نشي

دوي پي سنگ حکومت دسقوط په پوله ولاړ دي

نوي ډیلي داکتوبر۲۳
په هند وستان کي دوي پي سنگ حکومت له یوه نوي بحران سره مخامخ شویدي دابحران هغه وخت رامینځ ته شوکله چي دجنتاگوند دحکومت څخه خپل پریکړون اعلان کړ له هندي امله کیداي شي دوي پي سنگ حکومت له منځه ولاړشي اوهغه ونشي کولي په پارلمان کي خپل اکثریت وساتي .

الحاج مولوي نظام الدین حقاني د ...

مولوي صاحب په دغو لیدنو کتنو کي دمجاهدینوله ستونزواومشکلاتو څخه ځان خبر کړ . او مجاهدینو ته یې دجهادي چارو دمنظم والي او لاښه والي په هکله لازمي لارښووني وکړي. خبریال لیکي چي مولوي نظا. الدین حقاني به په دغه سفر کي ټول مربوط جهادي مرکزونه اوسنگرونه له نژد ي نه وگوري .

تقاضاي مردم امریکا از بوش

در امریکا هزاران تن شهروند دست به تظاهرات زده از رئیس جمهور بوش تقاضانمودند تاعساکر امریکایي را از شرقمیانه باز گرداند .
مطبوعات بین المللي گزارش داد مردم امریکا بامد نظر داشت تجارب تلخ گذشته از اعزام عساکر امریکا به شرق میانه تشویش داشته وخواهان باز گشت شان میباشند .
تظاهرات مشابه در فرانسه نیز صورت گرفته ومردم فرانسه خواهان عدم مداخله دولت فرانسه در بحران خلیج شدند .
همچنان مردم امریکا وکشورها ي اروپایي از حکومات شان خواسته اند تابه بحران خلیج از طریق صلح آمیز پایان داده شود .

*****

مؤسس :الحاج مولاناجلال الدین حقاني

مسوول مدیر
الحاج عبدالباري ننگیال
مرستیال
سید محی الدین هاشمی

دهیئت تحریر تر نظر لاندې

مکاتباتي پته
پوسټ بکس نمبر (۱۰۳۳)
یونیورسټي ټاون ،پیښور

دامریکا پر مختللي میزائیل عراقي پوځونو ته رسیدلي دي

دامریکي ددفاع وزارت دغه خبره منلي چي دامریکا پرمختللي مزائیل چي به هغو کي الوتکي ویشتونکي دهاك (۱۵۰) میزایل هم شامل دي هغه وخت دعراقي پوځونو لاسونو ته ورغلي چي دوي پر کویټ یوځي یرغل وکړ به خبر ونو کي ویل شویدي دغه میزائیل دعراقیانو له خوا بغداد ته انتقال شوي او دهغوي به اړه تحقیق روان دي .

مجاهدینو په ازره کي :

ددښمن یوه جیټ الوتکه رانسکوره کړه

پیښور دلړم (۸)
مجاهدینو د «ازري » په سیمې کي دکابل رژیم یوه جیټ الوتکه راغورځولي ده .
دنوموړي سیمي څخه په رارسیدلو خبرونوکي ویل شوي چي الوتکي ترهغې ورروسته چي ولگیده اورواخیست اورانسکوره شوه دالوتکي پیلوټ «عبدالقدیر » هم دنسکوریدو په وخت کي وژل شوي .

په حصارك کی سخته ملاریا خپره ده

دننگرهار ولایت دحصارك په ولسوالي کي د «پاکسیفارم » په نامه د ملاریا خطرناکه ناروغي خپره شویده .
دغه ټکي غلام حیدر «سعادت » په نوم دمجاهدینو یو قوماندان دیوي مرکي په ترځ کي ځرگند کړیدي .
نوموړي قوماندان وویل که څه هم دملاریا ناروغي تر چپلیار،خوگیاڼي ... تر منطقي پوري خپره ده ... حصارك په سیمه کي یې خطرناکه بڼه نیولي ده .
ده زیاته کړه : له هغو شلو تنو څخه چي یوطبي تیم معاینه کړل یوازي یو تن روغ وو دنورو ټولو ناروغي له ملاریا ، محرقي اوله محرقي وروسته زیږي ته اوښتي ووچي لدي کبله ماشومان اوحامله داري میرمني په ځانگړي توگه اونور ټول خلك په عام طور ډیر په تکلیف کي دي .
دغه قومندان دهغو ډاکترانو له خولي چي دحصارك سیمي ته تللي اومریضان یي کتلي دي ویلي چي دهریو مریض دجوړیدو له پاره یوولس سیرومه پکاردي .

دپردو دوحشت او زموږ دملت دمقاومت یوه ژوندي نمونه

وروستی چانس او . . .

په ډیر تاسف سره باید ووایو چي دوولس کلونه تیرشول اوپدغو دوولسوکلونوکي بي شمیره اتحادونه رامنځ ته شول خو یوه یي هم داختلافاتو له اړخه دملت پر ټپرجوړزخمونه روغ نکړی شول پدغودوولس کلونو کې د قیادتونو داختلافاتو په برېبو کیوکې بیاهم دجهاد قوماندانانو له روسي یرغلگرو سره خپل بریالي مقاومت دخپل بري منزل ته په ډیره میړانه اوقهرماني ورساوه مگدغه اوږده موده کي دجهاد ي تنظیمونواوقیادتونوداختلافاتوله اړخه ډیر زیان په داخل کي جهادي قوتونوته واوښت .
له همدي ځایه وه چي حالات دومره کړکیچن شول چي دجهاد ي قیادتونوترمنځ دو حدت اوواحد قو ت جوړیدل نه داچي گران کاروگڼل شو بلکي که ریښتیاووایو نوناممکنه بڼه یي هم ونیوله .
کله چي ولیدل شول دقیادتونو ترمنځله اوږده انتظار څخه وروسته بیاهم اتحاد ممکن نه ښکاري نو قومندانانو داخپل تاریخي اوایماني مسوولیت وگاڼه چي دخپلو قربانیو او وینو په برکت گټلي جنگ دسیاست او استعماري قدرتونودتوطئواوسازشونوله گواښ څخه وژغوري اوپه یوه داسي اقدام لاس پوری کړي چي دهغي له لاري د ټولو تنظیمونواو مجاهدینو ترمنځ یوریښتیني بشپړاومؤثر اتحادرامنځ ته شي .
خوښکاري داسي چي جهادي قیادتونه چي ښایي پدي رابطه لازمه دلچسپي نه ښیي که څه هم قوماندانانوپه وارواړپه ډاگه کړی چي دقوماندانانوشوراله جهادي تنظیمونوپرته کوم ځانگړی سیستم اوسازمان ندی اوپه هیڅ توگه دجهادي تنظیمونو اوقیادتونوپه وړاندي دکوم چلنج بڼه نلري اولومړني هدف یي هم دجهادي تنظیمونواوقوتونویووالی دی او دکوم ځانگړي سیاسي جریان بڼه نلري خوبیا هم داسي معلومیږي چي قیادتونومخلصانه همکاري ته تیارندي .
خوداهم ښایي په ډاگه کړو چي دقوماندانانو شورادجهادي قیادتونوله پاره وروستي چانس د ی اوکه چیري له دغه چانس اوفرصت څخه لازمه استفاده ونه شي - اویا - هم ورسره دعدم همکاري اومخالفت لاره په مخکي ونیول شي نویقیني خبره ده چي ملت نور دانتظار وخت اوحوصله نلري اوولس په خپله لارضروردمنزل په لوړ مخ په وړاندي لنډوي بیانو به داټوله ملامتیااودحالاتوعواقب او مسوولیت دقیادتونو پراوږووي چي لدغه مسوولیت څخه به بیا هیڅکله هم برائت پیدانکړي شي .

مجاهدین پنج ...

رازیراتش قرارداده دوطیاره سوخوي وسه هلیکوپتر راطعمه حریق نمودند .
درگذارش علاوه شده است که همچنان دراثر اصابت راکت هاي مجاهدین دیپوهاي اکمالاتي میدان مذکور حریق گردید که شعله هاي ان از فاصله پانزده کیلومتر دور تر دیده مي شد .
طي این عملیات بیست ویك تن صاحب منصب وعسکر هلاك وبیست وچارنفر دیگر مجروح شدند .
طبق گزارش مذکور مجاهدین بروزچارم عقرب نیز میدان هوایي مذکور را تحت ضربات راکتي قراردادند که میزان خسارات وتلفات ان هنوز روشن نشده است .
گزارش مي افزاید طیارات رژیم بعد از عملیات یادشده بر مواضع مجاهدین و اهالي ملکي بمباردمان نمودند که از اثرآن هشت تن از مجاهدین واهالي شهید وده تن دیگر مجروح شدند .

در روسیه ...

اطلاع مطبوعات اداري مذکور اشکارااعتراف نموده اند که در جلوگیري از جنایات ودستگیري مرتکبین موفق نبوده اند آنها گفته اند که دسته هاي جنایتکاردرروسیه تشکیل گردیده وبخاطر تقویت خویش باباند هاي خارج چون مافیا ارتباط قایم نموده اند این باندها گرچه تاحال چون مافیا قوي نیستند اما تلاش آنها بخاطر تقویت شان قابل تشویش میباشد .
اشتراك کنندگان کنفرانس مسوولیت این موضوع را بر عهده دولت روس انداختند که نتوانسته است ترتیبات قانوني را براي جلوگیري همچو جرایم فراهم نماید .

****

په شمال کی دحزب...

عمل کیږي .
هغه دظاهرشاه دبیرته را ستنیدوپه باب وویل : ظاهرشاه دافغانستان مسئلي په حل کي مثبت رول نشي لوبولي نه دعمر دزیاتوالي له امله داکارکولي شي اونه هغه به دي یوولس کالو کي داسي کارکړي چي ددي موقع ورکړشي .

په خوست کي ...

مولانا جلال الدین حقاني ترقیادت لاندي سلمان فارس (رض) غونډ مجاهدینو دروان کال دعقرب په لومړي نیټه دلیري ویشتونکوتوپونو په وسیله دخوست په نوي هوایي میدان کي یوه بارووړونکي الوتکه ویجاړه کړه خبرزیاتوي همدارنگه دمجاهدینو درانده عملیاتوپه نتیجه کي دملحد رژیم دوه تنه عسکر جگړن فهیم ته تسلیم شوي دمجاهدینو عملیات اوس هم دوام لري